سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۱۳

# غزل او خاطره

د شاعري مې څو کاله کېدل؛ خو د کورنی ډېر غږي راباندې خبر نه و. پلار مې له کوم درکه خبر شوی و، مور ته مې یې ویلي و، چې دا هلک ولي ما ته خپل شعر نه را ښکاره کوي؟ مجبور شوم، چې هر څه ورته روښانه کړم. بیا مې دا غزل ورښکاره کړ؛ چې څنګه یې نهم بیت ولوست، نو ویې خندل. هغه بیت اوږده کیسه لري، که نه ستړي کېدلئ، لاندې یې وګورئ! نوې شاعري خو هسې هم راسره نه شته؛ په دې زوړ غزل به سره خولې خوارې کړو:

ستا راتګ دومره ښاغلی دی مرشده
د زړه درد مې قرارېږي په رکود دی
ها ابلیس ګوره حاسد ستا په خلقت شو
دا بنده ګوره باداره چې سجود دی
راشه بیا یې که زړې چې راتول نشی
رغېدلی مې ریزه، ریزه وجود دی
درد و څړیکي سره سوی هم پکې شته خو
پرهرونو کې مې آهه ستا کمبود دی
په لک اخله په یوه یې ببرته پلوره
د حالاتو جبر دغه رنګې سود دی
د ښارې وحشت یې سترګې رنوي نه
د ښار ړوند پاچا د بل جهان موجود دی
مونږ په اور ماحول کې مسته مینه پالو
دی په شته ؤ فرصتونو کې نابود دی
نیت یې بد دی، دا زما د رقیب حق دی
خو د یار نظر نو ولې د حسود دی
په سپین مخ باندې د هر چا پېرزو بویه
د ایاز تقدس وړی ترک محمود دی
د یارانو مجلس ګرم په سپوږمۍ ده
د سمسور نظر د ستورو په سعود دی
۲۵ /۷ /۲۰۲۱ جلال کوټ

............................................
د بیت په لومړۍ مسره کې (په سپین مخ باندې د هر چا پېرزو بویه) یوه فطري خبره ده. منو یې چې ښکلا او حسن انسان ځان ته راکاږي؛ نو حتماً به ښکلی په سترګو ښه لګېږي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوهمي مسرۍ (د اياز تقدس وړی ترک محمود دی) کې د سلطان محمود کيسې ته پام شوی. دی چې تاريخونو کې يې له نوم سره غزنوي هم ليکل شوی، له اصله د غزني نه و، يوازې هلته حکمران و. د محمود مور د زابل پښتنه وه، که نه نور دی له اره د ترکيې و؛ ځکه خو بيت کې (ترک محمود) ورته ويل شوي.
محمود چې نيږدې ۱۰ پېړۍ وړاندې يې په غزني کې راج چلاوه، د آياز په نوم يو غلام درلو چې روايتونو کې يې د بې سارې ښکلا صفات شوي دي. اياز هغه ځوک و چې غزنوي ساتلی و او له هغه سره يې د لاثاني مينې عجيبه کيسې شته. ده ته دومره ستره درجه ورکړل شوې وه، چې له وزيرانو يې هم زيات امر منل کېده. نو دا دومره ډېر عنايت بې څه نه و؛ ځکه خو شاعر ادعا کړې چې اياز هومره هم ناپاک نه و، يوازې سپين مخی و. اصل کار په سلطان کې و، چې د ده تقدس يې يوړ. دا کټ مټ د اردو ژبې شاعر (مجاز) خبره ده چې وايي:
)کچھ تمہاری نگاہ کافر تھی
کچھ مجھے بھی خراب ہونا تھا(
يا لکه پروين شاکر چې د يو غزل په دوو بېلو، بېلو مسرو کې ويلي:
)اب کیسی پردہ داری، خبر عام ہو چکی(
)ہونا تھا جس کو پیار میں بدنام ہو چکی(
دا شوه د سلطان محمود د ښايستوکي غلام (اياز) کيسه؛ مگر زمونږ په کلي کې هم هوبهو داسې کيسه وه. يو ګاونډی مو اياز نومېده، چې نهايتاً خبيث انسان و. ده د کلي له دريو رذيلو ملکانو سره لاره جوړه کړې وه او ټول کليوال يې له فساد، جګړو او سپېتوبه پوزې ته راغلي وو. عجيبه اتفاق يې لا دا چې دی هم ساتل شوی هلک پاتې شوی و. نو پلار مې بيت په دواړو معناوو واخيست؛ ځکه خو يې وخندل!
سترګې خو هر چا تورولي
په دې ميرات کلي کې زه وشرمېدمه
د دې غزل ۳، ۶، ۷ او ۱۰م بيتونه هم تر شا کيسې لري؛ خو اوږدېږي؛ نو ځکه يې نه ليکم.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ